ډاکټر لمر ۲۰۱۳/۰۱/۳۱

# د ټولنې څرګند ارزښتونه او د ژوند پټ رازونه

داسې ويل کېږي، چې ژوند د ټولنيزو پېښو يو ځانګړی ننداريتون دی او پېښې د هر انسان تر سترګو په همغه ټاکلي موده او سيمه کې تر سره کيږي چې دی پکې موجود وي او په يو ډوله نه يو ډول يې په ذهن کې يې تلپاتې کېږي، نو ما هم په ژوند کې ډېر څه ليدلي، ډېر مې اورېدلي او يا مې لوستي دي، خو هره پيښه خپل سبب، خپل لوبغاړي او خپل ذهني علتونه لري، چې کله انسان هم له ډېرو پوښتنو سره مخامخ کوي، خو خوند هله کوي، چې دپېښو فلسفوي او پوهنيز شاليد وشنل شي، وسپړل شي او بيا د شعور لپاره ترې تغذيوي ماده جوړه شي.

له ننه څو لسيزې مخکې د ازبکستان د تاشکند ښار له هوايي ډګره په يوه الوتکه کې له نورو سورليو سره يو ځای سواره شو او مخ پر مسکو والوتلو. الوتکه ډېره لويه او اوږده وه. د څوکيو درې کرښې څنګ تر څنګ وې او په هره کرښه کې درې څوکی يا سيټونه ښېل شوي ول. زه هم له يو افغان محصل او يو روسي مسافر سره تر څنګ کېناستم. د لويې الوتکې د جوړښت، څواک او الوتنې په سوچونو کې لاهو وم، چې يوه يې مخې نجلی مې څنګ ته راغله او مخې ته مې ودرېدله!

دغه سپينې ښاپيرۍ زما د خيالونو دنيا ونړوله او ما هم ورته سترګې پورته کړې او بيا مې ورته ورپولې. دا راته په شوندو کې موسکی شوه او د لاس يو وړ پټنوس يې ما ته رامخکې کړ او ما هم پټنوس ترې واخيست. پټنوس مې د څوکی مخې ته پر څوړند ميزګي کېښود. بيا دا راواوښته او بل پټنوس يې افغان محصل ته ورکړ او په بل اړخ يې يو بل پټنوس هغه زموږ سره مل روسي مسافر ته په مېز کېښود، خو دا په نازو مکيز، ملاله او خرامانه رانه روانه شوه او د پردو تر شاه زما له سترګو پناه شوه.



ما د پټنوس ډوډۍ ته کتل، چې عجيبه لوښي، المونيمي پوښونه او بېلابېل رنګونه يې درلودل. ما يې يوازې جوش کړي کچالو، ترکاري، مالګيني مندکي او يوه وړه ټوټه کېک وپېژندل او ومې خوړل. په ډوډۍ خوړلو اخته وم، چې يوې شفافي پلاستيکي کڅوړې ته مې پام شو، چې لکه چاکلېټ غونډې يو جګړې شی له سپينو برګو ټپونو سره، ورپکې نغښتي ول، لکه غوښه غونډې راته ښکاره شوه، په ګوتو مې کېکاږه، نو پسته او نرمه وه. څنګ ته مې افغان ته پام شو، چې دغه ټوټه برګه غوښه يې په خوله غوټه منډلې ده او غاښونه يې پکې خښ کړي دي، نو دا بل څنګ ته مې روسي مسافر ته وکتل، چې په همدغه برګې غوښې شخوند وهي او د خولې څګونه يې ځي، نو ورو مې دغه کڅوړه روسي ماسفر ته وروښودله!

زه په اشارو ورسره ګړېدم، ځکه په روسي هغه مهال نه پوهېدم، خو کله چې د روسي مسافر کڅوړې ته پام شو، نو د دواړو لاسونو ګوتې يې راته راغونډې کړې او بيا يې دوې غبرګې ترې لکې کړې او په «خور، خور...او خرشو پرش» يې پيل وکړ او سر يې ها پلو او دې پلو ښورولو. ما ورته کتل او له ځانه سره مې سوچل، چې نه د پسه د «بعه، بعه» پيښې کوي او نه هم د خوسې د «غوړمبا» کاني او نه هم د سپي د غپا کوکارې، نو په زړه کې مې تېر شول، چې دا به ليا څه بلا وي، خو روسی مسافر لګيا وو او د کوم ناپېژندلي ځناور پيښې يې راته کولې، خو زه يې له کيسو سره سم د خنځير له خرشېدو او پرشېدو سره مشکوک کړم.

ما ورو له خپل پټنوسه هغه جګړې رنګه او په سپينو وازدو برګه د غوښې ټوټه له کڅوړې سره راپورته کړه او دغه روس ته مې په لاسونو کې ورکېښوده. روس هم خوله جينګه کړه او راته يې څو ځله د «سپوسيبو» يعني مننه ناره وکړه. بيا يې بټه ګوته راته نېغه کړه او را ته يې «خر شو» وراشه ياده کړه، نو ما هم په زړه کې تېر کړل، چې: خر دې پلار شو چې موږ پرې سپاره شو! او بيا يې د «موسلمانين، موسلمانين... اهه» وراشه ياده کړه، نو ما هم سر ورته وخوځولو، چې هو، هو مسلمان خو يم، خو له دې بلا مې خلاص کړه او نور مې په کراره پرېږده!

زموږ دغه خبرې زما بل څنګ ته ناست افغان محصل هم څارلې، چې کله روسي مسافر د خنځير د خرشو پرش پيښې کولې، نو دغه افغان ورور هم د برګې غوښې ټوټه ژوندۍ له خولې بيرته راوايستله او د الوتکې د طفالي کڅوړې ته يې ورواړتېږله، روسی مسافر ورته په خندا شو، خو افغان محصل له ځانه سره په ډونګېدا شو: اي پدرنالتا، اي پدرنالتا...، اي ګوشت خوک است، دانه مره مردار کرد! بس اخته وو او ډونګېدو، نو ما مخ ورواړولو او ورسره په خبرو شوم، نو ورته مې وويل، چې په نا


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

فهمي کې دې دغه برګه غوښه خولې ته کړې وه او اوس په کرار شه، بیا به پام کوو چې په بله کومه بلا وروانوړو، نو دواړو سرونه په څوکې کېښودل او تر مسکوه په درانه خوب ویده شولو.

ما ګومان کولو، چې نور نو د خنځیر له ګواښونو خلاص شوم، مګر د ژوند نندارتون له نورو پېښو سره مخامخ کړم. یوه ورځ له افغان ملګرو سره په سفر تللو، چې په یو ځای کې مو موټر ودرولو، چې ستوماني وباسو، نو یو شمېر دوستانو قهوه واخیستله او ما له عادت سره سم یو ګیلاس چې واخیست. نورو هر یو د خپلې قهوې په ګیلاس یا پیاله کې چا شودې او چا هم د قهوې کریم یا سپین رنګه پوډري شودې وراواچولې او چا هم سپینه او بل خړه بوره هم ورزیاته کړه.

ټول په ټوکو او خنداو بوخت ول، خو زما مخې ته پر مېز د قهوې د کریم د سپین پوډر یو خړ بوتل ایښی وو. نورو دوستانو ټوکې ټکالې کولې، خو ما د بوتل پر سر په انګریزي لیکلې کرښې لوستلې او د منځپانګې (اینګردیینټ) برخې ته مې یې پام شو او داسې معلومات مې ولوستل، چې زه یې له یو شمېر پوښتنو سره مخامخ کړم. په دغه برخه کې داسې لیکل شوي ول، چې دا پوډر جوړ شوی دی له:



د ګولوکوز (شکرې) شربت
نباتي غوړي
اندولیز یا موازني (E340, E452) خوراکي توکي
د شودو پروټین
شیرهیي یا مستلحبي توکي یا ایمولګاټور (E471)
د ګاټه (لخطه) کېدو ضد مواد (E551)
رنګین توکي (کرَوتین)

زه په خپله مطالعه بوخت وم، چې ملګرو راته غږ کړ، څه چې څو نور نو بس ده دا مطالعه! ته لیا هم په پاڼو لوستلو اخته یې او راته یې وخندل. یو یې راته ویل لکه چې سنتونه پر ځای کوي، نو بل ورته ویل چې څنګه! نو له دوستانو یو تن وویل، چې داسې ویل کېږي، چې هره پاڼه چې وموندې که څه پرې لیکلي وي، نو یو ځل یې هرومرو ولوله! نو دی هم هر څه چې ووینې نو که په پاڼه وي او که په بوتل نو تل یې یو ځل لولي، خو ما ورته کټ وهل او په خندا شوم او ورزیاته مې کړه.

ورونو ما یو د دغه بوتل د لېبل معلومات و نه لوستل، بلکې په (WiFi) کې مې د انټرنېټ ګوګل هم پسې ولټولو او ډېر په زړه پورې معلومات مې تر لاسه کړ. دوی بیا راته په خندا شول، بېکاره یې بېکاره!! خو ما ورته وویل، چې یو خو دا چې په دغه سپین د شودو په پوډر یا کریم کې داسې توکي شته چې له شګو یا رېګه جوړ شوي مواد دي او سیلیسیوم دیاوکساید نومېږي (E551)، خو خوړل یې زموږ بدن ته ضرر نه لري.

مګر بله بلا بیا د دغه پوډر شیرهیي توکي یا ایمولګاټور دي، چې د (E471) کود یا شفر هم لري، نو په اړه یې لیکل شوي دي، چې له ځناورو او په تېره بیا د خنځیر د وازدو له توکیو تر لاسه کېږي. زما د ملګرو غوږونه لکه ښکاري تازې غوندې څک څک ودرېدل! هو، دلته دا هم راغلي، چې مسلمانانو، یهودانو، ویجیټېرینانو او وېجینیستانو لپاره یې د کارولو سپارښت نه کېږي! بس ما خو دغه څه ولوستل، نو زه به په راتلونکې کې هم لکه تل غوندې یا چې څښم او یا به په خپله قهوه کې یوازې تازه شودې اچوم او له خوند سره به یې څښم او ستاسو بیا خپل زړه، چې هر څه کوئ! نو ما دغه اړین معلومات تاسو ته هم درکړل، چې بیا و نه وایی، چې له دغه پېښې خبر نه وو.


ژوند ما ته داسې برخلیک راپه نصیب کړ، چې ما وروسته له یواو یا بل پوهنتونه د روغتیاپالنې ډګر ته ورودانګل، د طب پوهنځی مې پای ته ورسولو، د جراحي په برخه کې مې تخصصي پروګرامونه تر سره کړل او د دوکتورا علمي څېړنې مې پای ته ورسولې. لکه ډېرو ډاکټرانو غوندې زه هم له ډېرو پېښو سره مخامخ شوی یم او مخامخ کېږم، نو د ناروغانو په ژوند کې هم ډېر څرګند دیني یا ټولنیز ارزښتونه او د درمل پېټ رازونه تر سترګو کېږي، چې په اړه یې معلومات کېدلی شي د خلکو لپاره په زړه پورې وي.

دا جوته ده، چې روغتیایي چارو نن سبا ډېر پرمختګ کړی دی، چې ډېرې نوې درملېزې توګې یې رامنځ ته کړې دي. په اوسنۍ روغتیاپالنه کې د زړه په ناروغیو کې داسې پرمختګونه شوي دي او یا داسې عملیاتونه تر سره کېږي، چې هیښ به ورته پاتې شي. دغه عملیاتونه په منځني توګه د یو انسان د عمر اوږدوالی تر لسو کلونو پورې زیاتوي. د زړه عملیاتونه، د بایپاس عملیاتونه او د زړه د والونو بیا رغاونه او یایې پر ځای د مصنوعي وال ایښودل اوس ډېره یوه معمولي پېښه ده او هر کال په لکهاو ناروغان د زړه د ناروغیو په اړه عملیاتېږي او په میلیوناو د زړه ناروغان په درملو تداوي کېږي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د زړه په عملیاتونو کې د میخانیکي والونو تر څنګ بیولوژیکي والونه هم د عملیاتونو لپاره کارول کېږي، چې یو شمېر یې د انسانو له مړیو تر لاسه کېږي او نور یې د خوسیو او یا غویانو د زړه له پردې جوړېږي، خو د دې تر څنګ د خنځیر د زړه له پردو هم دا ډول وال-تراسپلانت جوړېږي، چې د اړتیا سره سم د ناروغ په زړه کې ایښودل کېږي، چې ناروغ جوړ شي او خپل ورځنیز ژوند په ښه توګه تر سره کړي.

په روغتیایي چارو کې له خنځیر سره ګڼشمېر نور درملیز اړخونه او یا توکي هم نبغ تړاو لري. څنګه چې مخکې یاده شوه نن سبا د زړه په جراحي کې د زړه د والونو پردې د خوسندر یا غویي تر څنګ د خنځیر د زړه له پردې هم جوړېږي، چې د زړه د




ناروغو والونو پر ځای یې وراچوي یا هم د زړه د ارثي ناروغي په ترڅ کې د زړه د ځینو غیر معمولي سورویو د بندولو لپاره هم کارول کېږي.

مګر د درملني په برخه کې یو داسې درمل هم شته دی، چې د زړه د ناروغي په ترڅ کې د وینې د نري کېدلو لپاره کارول کېږي او د زړه او رګونو د ناروغیو په درملنه کې د نرۍ په هر ګوټ کې دغه درمل کارول کېږي. دغه بیولوژیکي درمل د هیپارین «Heparin» په نامه یادېږي او د پوډر په بڼه په امپولونو کې تولیدېږي او د نړۍ په ټولو روغتونو کې د تداوي لپاره کارول کېږي. باید یاده شي، چې د هیپارین د صنعتي تولید پروسیجر په لاندې ډول دی:


۱- د دغه درمل د جوړولو لپاره د خنځیر کولمې له یو ځانګړي ماشینه تېرېږي، چې په دې ډول مئینه او میده ختینه ماده لکه اوګره یا حلوا «Pulp» ترې جوړېږي.
۲- دغه د کولمو رېزګي یا ختینه ماده (اوګره) په لوښو کانکرېټي لوښیو کې تودېږي، چې د هیپارین شیره ترې جوړه شي.
۳- وروسته له دې د هیپارین شیرې ته رسین یا ولې شوي ربړونه یعني «Resin» وراچول کېږي، چې هیپارین له نورو توکیو نه بېل شي.
۴- د مالګینو اوبو په مرسته هیپارین له رسین څخه بېلېږي او رسین فلترکېږي او له محلوله لیرې کېږي.
۵- د الکولو په مرسته هیپارین له مالګینو اوبو بېلېږي. وروسته له دې هیپارین وچېږي او د پوډر په بڼه په ځانګړو امپولونو کې له مشخص مقداره سره ځای پر ځای کېږي.
هیپارین په نننی روغتیاپالنه کې په پرېمانه توګه کارول کېږي. په نړۍ کې داسې روغتون نشته، چې هلته ډاکتران د هیپارین په مرسته ناروغان تداوي نه کړي. سربېره پر دې چې له هیپارین سره ګڼشمېر ستونزمن حالات هم مل دي، چې د خونریزي له کبله د انسانانو د مړیني سبب هم کېدلی شي، مګر بیا هم دغه درمل په روغتونونو کې یو اړین درمل شمېرل کېږي. هغه ناروغي، چې د درملني لپاره یې هیپارین کارول کېږي په لاندې ډول دي:

Acute Coronary Syndrome or NSTEMI د زړه ناڅاپه حمله
Atrial Fibrillation د زړه رپېدا
Deep Vein Thrombosis د ژورو شینرګو (وریدونو) د وینې ګاټه کېدل
Pulmonary embolism د سږیو د سوررګو د وینې لخطه کېدل
Hemofiltration د وینې د فلتر یا پاکېدلو پروسیجر
Cardiopulmonary bypass for heart surgery د وینې د مصنوعي جریان ماشین
NSTEMI د زړه ناڅاپه سکته
Indwelling central and peripheral venous bypass د رګونو د بایپس عملیاتونه


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ











د هيپارين له درمل سره د مرګوني خونريزۍ تر څنګ يو شمېر نورې ستونزې هم شته دي، چې مغزي خونريزي، الرژيکي غبرګونونه او همدا ډول د وينې د ګاټه کېدلو د ټوکرو «thrombocytes» د کمښت، چې په هيپارين لمسېدلي ترومبوسيتوپينيا «HIT-heparin induced thrombocytopenia» هم ورته ويل کېږي، چې د هيپارين له تزريق سره مخامخ تړوا لري، رامنځ ته کېدلی شي، خو بيا هم دغه درمل په نړيواله کچه يو اړين درمل ګڼل کېږي او په ټولو روغتونو کې له اړتيا سره سم په عاجل يا بېړني سروېس کې کارول کېږي.

پايله

څنګه چې وينې په ژوند کې د ديني او ټولني له څرګندو ارزښتونو سره د ژوندانه پټ رازونه هم نغښتي دي، چې هر مسلمان او غير مسلمان ورسره مخامخ کېدلی شي. د يو شمېر توکيو د نه کارولو او يا نه خوړلو لپاره يو بديل موندل کېدلی شي اما په هغه حالتونو کې، چې د انسان د ژوند د ژغورنې پېښه مخې ته پرته وي او يو ډاکټر ناروغ ته هغه درمل ورکوي، چې د ديني يا ټولني د څرګندو ارزښتونو سره په مغايرت کې وي او ناروغ هم د ژوند او مړيني له ګواښ سره لاس او ګرېوان وي، نو په دغه نازک حالت کې د ناروغ د معالجې ډاکټر او خپله ناروغ د کومو ديني اسنادو پر بنسټ پرېکړه وکړي، چې ناروغ په يو او يا بل دين کې د منعه شويو توکيو څخه جوړشويو درملونو باندې تداوي شي، نو دغه هغه پوښتنه ده، چې د اديانو عالمان يې بايد په اړه په زغرده فتوا ورکړي، چې د دغه ډول درملني ديني جواز تر لاسه شي. ستاسو سره به هرومرو دا پوښتنه هم پيدا کېږي، چې زه خپله لکه يو ډاکټر په دې اړه څه دريځ خپل کوم. زما ځواب لنډ دی او هغه دا چې ما ته انسان اشرف المخلوقات دی او ژغورل يې پر ډاکټر فرض دي او هر ډول درمل، چې ناروغ وژغوري پرته له شکه بايد پرې تداوي شي.

په درنښت


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ